


# حُسيني ناوک

شَيخِ طَرِيقَت، اَمِيرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابو بِلال
مُحمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي
دامت برکاتهم العالية

پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

www.dawateislami.net

# حُسيني ناوک

از : شيخ طريقت امير اهلسنت، بانئ دعوتِ اسلامي

**علامه، مولانا، ابو بلال محمد الياس عطار قادري، رضوي**

دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه

## دَ ترجمې پيشکش:

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې د اُردو نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمي زياتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته د هغې خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**مجلس تراجم دعوتِ اسلامي**


**عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران**

**پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان**

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# حُسيني ناوك[1]

شيطان که هر څومره ناراستي درولي خو تاسو د ثواب په نِيَّت دا بيان پوره ولولئ اِنْ شَآءَالله تعالٰی په زړه کښې به مَدَني انقلاب محسوس کړئ.

## د دُرود شريف فضيلت

**حضرتِ** سَيِّدُنا شيخ **محمَّد** بِن سُلَيمان جَزولی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: زه په سفر روان ووم، يو ځائ کښې د لـمانځه وخت راغي، هلته **کوهي** وو خو بوقه او رسئ نه وو. زه په هم دې سوچ کښې ووم چه د يو کور د کوټې د سر نه يوې **مَدَني ماشومې** [يعني وړې ماشومې] زه وليدم او تپوس ئې را نه وکړو چه: تاسو څه ګورئ؟ ما ورته اووئيل: بچۍ! رسئ او بوقه ګورم. هغې را نه تپوس وکړو چه: ستاسو نوم څه دې؟ ما ورته اووئيل: **مُحمَّد بِن سُليمان جَزولي. ماشومه** حيرانه شوه او را ته ئې اووئيل: ښه هغه

[1] دا بيان امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په کراچۍ کښې د تبليغ قُرآن و سُنَّت د عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي د سندھ سطح د ۳ ورځو د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې په ۱۴۲۰ھ کښې فرمائيلې وو. د ترميم او اضافې سره ليکلې شوې حاضرِ خدمت دې. مجلس مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه

www.dawateislami.net

مشهور کس تاسو ئې چه په هر ځائ کښې یادیږئ او حال مو دا دې چه د کوهي نه اوبه هم نه شئ راوِیستلې! دا ئې چه اووئیل [نو هغه راغله] او په کوهي کښې ئې لاړې توك کړې، عجیبه کمال وشو! اوبه فوراً بره راوختلې او د کوهي د غاړې نه بهر تویدل شروع شوې هغوئې رَحمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيه د اودس نه د فارغیدو نه پس هغه **کمالي مَدَنـي ماشومې** ته اُوفرمائیل: لورې! رِښتیا اووایه چه تا دا کمال څنګه حاصِل کړې دې؟ هغې اووئیل: "زه په کثرت سره **دُرُود شریف** وایم، د هغې په بَرَکت دا کرم شوې دې." هغوئې رَحمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيه فرمائي: زه د هغه "**کمالي مَدَنـي ماشومې**" نه مُتاثِره شوم او هم هلته مې د ځان سره دا پخه وعده وکړه چه د **دُرُود شریف په باره کښې به کِتاب لیکم** (سَعادَةُ الدّارَین ص ۱۵۹)

چنانچه بیا هغوئې د دُرُود شریف کتاب ولیکلو چه بېحده مقبول شو او د هغه کتاب نوم "دَلائلُ الْخَیرات" دې.

صَـلُّـوا عَـلَى الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس یو څو ورځې مخکښې مونږه د کربلا د عظیمو شُهَداؤ یاد لـمانځلې وو. راځئ چه تاسو ته د "**حُسیني ناوك**" دردناك داستان واروو. چنانچه صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه په خپل مشهور کتاب "سَوانِحِ کربلا" کښې لیکي:

www.dawateislami.net

# حُسيني ناوک

حضرتِ سَیِّدُنا **وَهُب** بِن عبدُالله کلبي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د قبِيلهٔ بني کَلب نيك او ښکلي ځلمي وو، تنکي ځلمي وو او د ارمانونو د سپرلي ورځې ئې وې. د واده ئې صرف ووڵس ورځې شوي وې، د خوندونو او مزو ورځې ئې وې چه کوندې والِدې صاحِبې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا ئې خوا ته تشريف راوړو، د هغې د ټول عُمر خواري هُم دا يو ځلمي ځوئ وو. مور صاحبه ئې په ژړا شوه. ځوئ ئې حيران شو او تپوس ئې ترې وکړو چه: **خوږې مورې!** د غم او خفګان څه وجه ده؟ ما ته خو ياد نه دي چه ما به کله په ټول عُمر کښې ستاسو نافرماني کړي وي او نه آئنده داسې جُرأت کولې شم. ستاسو اِطاعَت او فرمانبرداري په ما فرض ده او زه به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ټول عمر ستاسو منونکې او فرمانبرداره اوسيږم. مورې ستاسو زړه ته څه تکليف رسيدلې دې او تاسو کوم غم ژړوي؟ زما خوږې مورې! زه ستاسو په حُکم باندې ځان قُربانولو ته هُم تيار يم تاسو غم مه کوئ.

د سعادت مند ځوئ دا سعادت مندانه خبرې ئې چه واوريدې نو د مور ژړا ئې نوره تيزه شوه او وئې وئيل چه: اے زما د زړګي سره خوږه ځويه! ته زما د سترګو نُور او زما د زړه قرار ئې، اے زما د کور رڼړا او زما د باغ خوشبوداره ګُله! ما ته په ډيرو سختو او خوارو زارو

www.dawateislami.net

لوئ کړې ئې. زما د زړه قرار او سکون هُم دا ته ئې. ستا جُدائي زه يو ساعت نه شم برداشت کولې.

چو دَر خواب باشم تُوئی دَر خیالم
چو بَیدار گردَم تُوئی دَر ضمیرَم

([تَرجَـمَه:] يعني چه زه اُوده يم نو زما په خوبونو او خيالونو کښې هُم ته ئې او چه کله راويښه شم نو زما په يادونو کښې هُم ته ئې) اے زما د زړګي سره! ته ما د ځيګر په وِينو لوئ کړې ئې. نن په دې وخت کښې د کربلا په دشتو کښې د **الله** تعالیٰ د خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسې، د مولٰی علي مُشکِل کُشا او خاتونِ جَنَّت فاطمةُ الزَّهرا رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا شهزاده [حضرتِ سَیِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ] په تکليف کښې دې. زما ګرانه بچيه! آيا ستا نه دا کيدې شي چه ته خپل ځان د هغوئي په ښپو قربان کړې! په دې بيغيرته ژوند څه چه مونږه ژوندي پاتې شو او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نازولې شهزاده په ظُلم او جفا شهيد کړې شي. که تا ته زما مَحَبَّتونه څه نه څه ياد وي او ستا په پرورش کښې چه ما کوم تکليفونه تير کړي دي، هغه تا نه وي هير کړي نو اے زما د ګلشن خوشبوداره ګُله! خپل ځان د خوږ حُسين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په سر قربان کړه.

**حُسيني ناوك** حضرتِ سَیِّدُنا **وَهب** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عرض وکړو: اے زما مهربانه مورې، دا خو به زما خوش نصيبي وي، زما ځان دِ په شهزاده حُسين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ باندې قُربان وي، زه د زړه په صِدق سره تيار يم، د لږ

ساعت اجازت غوارم چه د هغه بي بي سره يو دوه خبرې وکړم چا چه د خپل ژوند عيش و راحت ما ته حواله کړي دي او د هغې ارمانونه زما نه سِوا د بل په طرف نه ګوري. د هغې د ارمانونو د خاورو کيدو د خيال په وجه که هغه غواړي چه هغې ته اجازت ورکړم چه د هغې خوښه ده چه خپل ژوند هر څنګه تيرول غواړي. مور ورته اُووئيل! بچيه! ښځې **نَاقِصُ الْعقل** وي، هسې نه چه د هغې په خبرو کښې راشې او دا د هميشه سعادت دِ د لاسه لاړ شي.

**حُسيني ناوك** حضرتِ سَيِّدُنا **وَهْب** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عرض وکړو: خوږې مورې! د اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ **مَحَبَّت** مې په زړه کښې داسې ځائ کړې دې چه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د دُنيا يو طاقت ئې هُم زما د زړه نه شي ويستلې. او نه زما د زړه نه په هغوئې باندې د قربانيدو خيال ويستلې شي. بيا د خپلې بي بي خوا ته ورغلو او هغه ئې خبره کړه چه په کربلا کښې د خوږ **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسې، د مولٰی علي مُشکِل کُشا او خاتونِ جَنَّت فاطمةُ الزَّهرا رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا شهزاده [حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ] په تکليف کښې دې. غداران ترې راتاو شوي دي. زما خواهش دې چه په هغوئې ځان قربان کړم. **ناوې** چه دا واوريدل نو يو اسويلې ئې وکړو او وئې وئيل چه: اے زما د سر تاجه! افسوس چه زه په دې جنګ کښې ستا ملګرتيا نه شم کولې. شريعتِ اِسلاميه ښځو

www.dawateislami.net

ته د جنګ د پاره ميدان ته د تللو اجازت نه دې ورکړې. افسوس په دې سعادت کښې زما حِصّه نشته چه ستاسو سره زه هُم د دُښمنانو خلاف وجنګيږم او په اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ځان قربان کړم.

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! تاسو خو د جنَّت د باغونو اِراده وکړه هلته به حورې ستاسو د خِدمت حواهش مندې وي. بس يوه مهرباني وکړئ چه کله د سرداراںِ اَهلِبَيت عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره په جَنَّت کښې ستاسو د پاره نعمتونه حاضريږي او جَنَّتي حورې ستاسو په خِدمت حاضريږي، هغه وخت کښې به ما هُم د ځان سره ساتئ.

حُسيني ناوك ځان سره خپله هغه نيك سيرته ناوې او بزرګه مور رواني کړې او د اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښې حاضر شو. ناوې عرض وکړو: اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزاده! شهيدان د اس نه زمکې ته راپريوتو سره د حُورو غيږو ته رسي او غِلمانِ جَنَّت په کمال فرمانبردارئ سره د هغوئي خدمت کوي. "دوئي" [يعني زما خاوند] په تاسو د قربانيدو خواهش لري او زه ډيره زياته بې ځوکه يم، هيڅ ځوك داسې خپل مې نشته چه زما څه خبر واخلي. ګُزارش مې دا دې چه په محشر کښې زه د ده نه جُدا نه يم، او په دُنيا کښې ما غريبه ستاسو اَهلِبَيت خپله وِينزه جوړه کړې او زما ټول عمر ستاسو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د پاکو بيبيانو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُنَّ په خِدمت کښې تير شي.

www.dawateislami.net

دا تړول عَهد و پيمان [يعني وعدې] د حضرتِ اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ په مخکښې وشو او سَيِّدُنا وَهْب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ هُم دا عرض وکړو چه يا اِمامِ عالي مُقام! که د حُضُور تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شفاعت ما ته جَنَّت راکړې شو نو عرض به کووم چه: يا رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا بي بي هُم زما سره کړئ. حُسيني ناوك حضرتِ سَيِّدُنا وَهْب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د اِمامِ عالي مُقام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه اجازت واخستو او ميدان ته داخل شو، د دُښمنانو لښکر چه دا وليده چه د سپوږمۍ په شان ښکلې يو ځلمې په اس سور د ناڅاپه تندر په شان د لښکر په طرف راروان دې نو په لړزان شو، په لاس کښې ئې نيزه ده، ډال ئې په اُوګه دې او په داسې آواز کښې چه زړونه درزوي دا رَجـز وائي او راروان دې: ــه

آمِيرٌ حُسَيۡنٌ وَ نِعمَ الۡاَمِيۡر
لَهٗ لَمۡعَةٌ کَالسِّرَاجِ الۡمُنِيۡر

(يعني حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡهُ امير دې او ډېر زيات ښه امير دې. د هغوئې د مخ ځليدل د روښانه شمعې په شان دې)

د بريښنا په شان ميدان ته ورسيدو، په اس باندې ئې د خپل فن د مَهارت مظاهره وکړه، د دُښمن د صفونو نه ئې مُبارِز طلب کړو، چه خوك به ئې مخې له راتلو سر به ئې ترې وهو. ګيرچاپيره ئې د سرکشو د سرونو انبارونه ولګول، د نا آهلو سرونه ئې په خاورو او وينه کښې ولړل. ناڅاپه ئې د اس واګې راتاؤ کړې او د مور خوا ته راغې او

www.dawateislami.net

عرض ئې وكړو چه اے زما **مهربانه مورې!** اوس خو به را نه راضي شوې ئې! او د ناوې خوا ته ورغلو چه هغې په بې قرارئ سره ژړل، هغې ته ئې د صبر تلقين وكړو. په دې كښې د دُښمنانو د طرفه آواز راغې: هَلْ مِنْ مُّبَارِز؟ يعني څوك شته چه د مقابلې د پاره راشي؟ حضرتِ سَيِّدُنا **وَهْب** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په اس سور شو او ميدان ته روان شو. ناوې ئې ورته مسلسل كورې او اوښكې تويوې.

**حُسيني ناوك** د غضبناك زمرې په شان نيزه په لاس ميدان جنګ ته د بريښنا د څرك په شان ورسيدو. هغه وخت په ميدان كښې د دُښمنانو له طرفه مشهور بهادر او نامور سوار حَكَم بِن طُفيل موجود وو هغه ډير په تَكَبُّر كښې راتاؤ شو. حضرتِ سَيِّدُنا **وَهْب** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ صرف په يوه حمله كښې په نيزه كښې پورته كړو او زمكې له ئې داسې راويشتو چه هډوكې ئې چورې چورې شو او په دواړو لښكرو كښې شور جوړ شو او په مبارزو كښې د مقابلې هِمَّت پاتې نه شو. سَيِّدُنا **وَهْب** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اس ور وزغلوو او د دُښمنانو مينځ ته ورسيدو. چه كوم مُبارز به راتلو په نيزه كښې به پورته كوو او زمكې ته به ئې راويشتو. تر دې چه نيزه ټكړې ټكړې شوه. توره ئې د تيكي نه راويستله او د دُښمنانو سرونه ئې په خاورو كښې ګډ كړل. چه دُښمنان د دې جنګ نه تنګ شو نو عَمرو بِن سعد حُكم وكړو چه د دې څلمي نه راتاؤ شئ او د څلور

وارِو طرفو نه پرېږي په شريکه حمله وکړئ چنانچه هُم دغسې وکړې شو. چه کله **حُسيني ناوك** زخمي زخمي شو او د [اس نه] زمکې ته راپريوتلو نو د تورو زړونو خاوندانو بدباطِنو ترې سر کټ کړو او حُسيني لښکر طرف ته ئې گُزار کړو. **مور** د خپل گران ځوئ سر په خپل مخ پورې مړلو او وئيل ئې: اے ځويه، زما بهادره ځويه! اوس ستا مور ستا نه راضي شوه. بيا هغه سر د هغه ناوې په غېږه کښې کېښودو. ناوې سلگئ اُووهله او په هغه ساعت د پتنگ په شان په هغه ښکلې شمع باندې قربان شوه او رُوح ئې د **حُسيني ناوك** سره يو ځائ شو.

سُرخروئی اسے کہتے ہیں کہ راہِ حق میں
سر کے دینے میں ذرا تو نے تأمّل نہ کیا

کاميابي دا ده چه د حق په لار کښې
اَسره تا ونکړه په سر ورکولو

اَسکَنَکُمَا اللهُ فَرَادِيْسَ الجِنَانِ وَ اَغْرَقَکُمَا فِي بِحَارِ الرَّحمَةِ وَ الرِّضوَانِ (يعني الله عَزَّوَجَلَّ دِ تا ته د فِردوس په باغونو کښې ځائ درکړي، او تا دِ د رَحمت او رِضوان په دريابونو کښې غريق کړي) (مُلَخَّص از سَوانِحِ کربلا ص١٤١ تا ١٤٦ مَکْتَبَةُ الْمَدِينه کراچي)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو وليده! د اَهلِبَيتِ اَطهار عَلَيهِمُ الرِّضوَان مَحَبَّت او جذبهٔ شهادت هُم څومره عظيم نعمتونه دي صرف د وولسو ورځو ناوك په ميدانِ جنگ کښې د دُښمنانو د خطرناك لښکر سره

www.dawateislami.net

يواځې وجنګيدو او جامِ شهادت ئې نصيب شو او د جَنَّت حقدار شو. د **حُسيني ناوك** په والِده صاحِبه او ناوې دِ هُم کروړنه سلامونه وي! په خومره اوچته حوصله مور خپل ګران ځوئ او ناوې خپل خاوند ته کتل چه د دوئې په مخکښ هغه په اِمامِ عالي مُقام اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ باندې قربان شو. **الله** تَبَارَکَ وَتَعَالٰی دِ د داسې اوچته مرتبه لرونکو [بهادرو] مسلمانو زنانؤ د جذبهٔ اسلامې يوه ذرَّه زمونږه ميندو او خويندو ته هُم نصيب کړې چه هغوئې هُم خپل اولاد د دِينِ اسلام د پاره قربانۍ ورکولو ته وړاندې کړې او د سُنَّتو پابند ئې جوړ کړې او د عاشقانِ رَسُول سره په مَدَني قَافِلو کښې سفر ته ئې تيّار کړې.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو   لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو   ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

زده کړئ بنکلې سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
وګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
حل به موشي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!   صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## درې بهادُر ورونړه

حضرتِ علامه ابو الفَرَج عبدُ الرَّحمٰن بِن جَوزي رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په عُيُون

**الـحِكايات** کښې نقل کوي: په اسونو سواره درې شامي بهادُران ځلمي ورونړه د اسلامي لښکر سره جِهاد له روان شو خو هغوئي به د لښکر نه بيَل تلل او بيَل پړاؤ به ئې کولو. او تر څو به چه د کُفَّارو لښکر وړومبې حمله نه وه کړې تر هغې به هئې په جنګ کښې حِصّه نه اخستله. يو ځل د رُوميانو يو ډير غټ لښکر په مسلمانانو حمله وکړه او ډير مسلمانان ئې شهيدان او ډير ئې قيديان کړل. هغه درې واړو ورونړو يو بل ته اُووئيل چه په مسلمانانو باندې يو ډير غټ مصيبت نازل شوې دې په مونږه لازمه ده چه د خپلو ځانونو هيڅ پروا ونکړو او ميدانِ جنګ ته ټوپ کړو، دوئي ورغلل او کوم مسلمانان چه پاتې وو هغوئي ته ئې اُووئيل چه تاسو زمونږ نه شا ته شئ او مونږه د دوئي سره مقابلې ته پرېږدئ. که الله تعالیٰ ته منظوره وه نو مونږه به ستاسو د پاره کافي يو. بيا دوئي په رومي لښکر شروع وکړه او روميان ئې په شا کېدو باندې مجبوره کړل. رُومي بادشاه (چه د دې درې واړو د بهادرئ منظر ئې ليدلو) خپل جرنيل ته اُووئيل: څوك چه په دوئي کښې يو ځلمي ګرفتار کړي او را ئې ولي زه به هغه خپل مُقرَّب [يعني خپل خاص سړې] او سِپه سالار [يعني قُمندان] جوړ کړم. ''رُومي لښکر خپل ځانونه په خطره کښې واچول او آخر دا چه هغه درې واړه ورونړه ئې د زخمي کولو نه بغير ګرفتار کړل. رُومي بادشاه اُووئيل چه د دې درې واړو نه بله غټه فتح او غټ مالِ غنيمت نشته، بيا ئې خپل لښکر ته د

www.dawateislami.net

روانيدو حُكم وكړو او هغه درې واړه وروڼړه ئې ځان سره دار السَّلطَنَت قُسطُنطُنيه ته راوستل او وورته ئې اُووئيل چه: كه تاسو اسلام پرېږدئ نو زه به تاسو ته خپلې لونړه در واده كړم او آئنده بادشاهت به هُم تاسو ته حواله كړم. هغه وروڼړو په اسلام باندې د استقامت مظاهره وكړه او د هغه دا پيشكش قبلولو نه ئې انكار وكړو او خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې ياد كړو او خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ئې اِستِغاثه [يعني فرياد] وكړو. بادشاه خپلو درباريانو ته اُووئيل چه دوئي څه وائي؟ درباريانو ئې اُووئيل چه "دوئي خپل نبي ته فرياد كوي"، بادشاه ورته اُووئيل چه كه تاسو زما خبره ونه منله نو زه به په درې ديګونو كښې تيل ښه سره كړم او درې واړه به يو يو ديګ ته غوزار كړم. بيا ئې د درې ديګونو ايښودلو او د هغې نه لاندې درې ورځې د اور بلولو حُكم وكړو. هره ورځ به ئې هغه درې واړه وروڼړه د هغه ديګونو خوا ته راوستل او بادشاه به ورته خپل پيشكش وړاندې كوو چه كه تاسو اسلام پرېږدئ نو زه به تاسو ته خپلې لونړه در واده كړم او آئنده بادشاهت به هُم تاسو ته حواله كړم. هغه درې واړه هر ځله په ايمان ثابت قدمه پاتې شو او د بادشاه پيشكش ئې مُسترد كړو. درې ورځې پس بادشاه په هغوئي كښې مشر ورور ته غږ وكړو او خپله مطالبه ئې بيا بيان كړه، هغه مردِ مُجاهِد بيا انكار وكړو. آخر بادشاه په غُصّه كې راغې او د هغه په ديګ كښې د اچولو حُكم ئې وكړو

**چه څنګه ئې هغه ځلمې په خوټکيدلو تيلو کښې واچوو نو فوراً د هغه ټول پوستکې او څرمن وسوزيدل او هډوکي ئې د تيلو سر له راغلل،** بادشاه د دويم ورور سره هُم دغسې وکړل او هغه ئې هُم خوټکيدلو تيلو ته غوزار کړو. چه بادشاه په داسې سخت وخت کښې هُم په اسلام باندې د هغوئې اِستِقامت او داسې سختو مصيبتونو باندې د هغوئې صبر وليدو نو پښيمانه شو او ځان سره ئې اُووئيل چه ما د دې (مسلمانانو) نه زيات بهادر څوك نه دې ليدلې او دا ما د دوئې سره څه وکړل؟ بيا ئې د هغوئې د کشر ورور د راوستلو حکم وکړو او هغه ئې ځان ته رانزدې کړو او په مختلفو بهانو ئې د دوکه کولو کوشش شروع کړو خو هغه ځلمې د هغه په دوکه کښې رانغلو او د هغه په اِستِقامت کښې ذره فرق هُم رانغې، په دې کښې د هغه يو درباري اُووئيل: اے بادشاه که دې زه راضي کړم نو ما ته به څه انعام راکړې؟ بادشاه جواب ورکړو چه: زه به تا د خپل فوځ قُمندان جوړ کړم. هغه درباري اُووئيل: ما ته منظوره ده: بادشاه ترې تپوس وکړو چه: ته به دا څنګه راضي کړې؟ درباري اُووئيل چه: اے بادشاه تا ته معلومه ده چه اَهلِ عرب ښځې ډيرې زياتې خوښوي او دا خبره ټولو رُوميانو ته معلومه ده چه زما فلانکۍ لور په ښائست کښې ثاني نه لري او په ټول رُوم کښې د هغې په شان بله ښکلې جينۍ نشته، ته دا ځلمې ما ته حواله کړه زه به دې او خپله هغه لور په ځان له ځائ کښې يو ځائ کړم، هغه

www.dawateislami.net

به د ده په رضا کولو کښې کامیابه شي. بادشاه هغه درباري ته څلویښت ورځې مُهلت ورکړو او هغه څلمې ئې ورته حواله کړو، درباري هغه راوستو او د خپلې لور خوا ته ورغې او ټوله قِصّه ئې ورته وکړه. جينئ د پلار خبره منلو ته تیاره شوه، هغه څلمې د هغه جينئ سره په دې شان اُوسيدو چه د ورځې به ئې روژه نیوله او د شپې به په نفلونو کښې مشغول اوسیدو. تر دې چه مقرره معیاد ختمیدو ته نزدې شو نو بادشاه د هغه جينئ د پلار نه د هغه څلمي د حال تپوس وکړو. هغه ورغې او د لور نه ئې تپوس وکړو نو هغې اُووئیل چه زه د ده په رضامند کولو کښې ناکامه شوم، هغه زما طرف ته هیڅ تَوَجُّه نه راکوي شاید د هغې وجه دا ده چه د هغه دواړه ورونړه په هُم دې ښار کښې قتل کړې شوي دي او د هغوئي په یاد کښې خفه دې لِهٰذا د بادشاه نه نور مُهلت اُوغواړه او مونږه دواړه بل ښار ته ورسوه. درباري بادشاه ته ټوله قِصّه وکړه. بادشاه نور مُهلت ورکړو او هغه دواړه ئې بل ښار ته د رسولو حُکم وکړو. هغه څلمې هلته هُم په خپل معمول قائم وو یعني د ورځې به ئې روژه نیوله او د شپې به په عبادت کښې مصروفه وو تر دې چه کله مُهلت ختمیدو کښې درې ورځې پاتې شوې نو جينئ بیتابه شوه او هغه څلمي ته ئې عرض وکړو چه: زه ستاسو دین ته داخلیدل غواړم او دغسې هغه مسلمانه شوه. بیا هغوئي د هغه ځائ نه د تښتیدو ترکیب جوړ کړو، هغه جينئ د اصطبل [د اسونو د ودرولو د ځائ] نه دوه اسونه

www.dawateislami.net

راوستل، په هغې دواړه سواره شو او د اسلام د بادشاهئ د ملك طرف ته روان شو. يو شپه ئې ځان پسې شا ته د اسونو د ښپو آواز واوريدو. جينئ دا ګُمان وکړو چه رُومي فوځيان په هغوئي پسې شا ته نزدې راورسيدل. جينئ ځلمي ته اُووئيل چه: تاسو د هغه رب عَزَّوَجَلَّ نه سوال وکړئ په چا چه ما ايمان راوړې دې چه هغه جَلَّ جَلالُهٗ مونږ ته د دُښمنانو نه خلاصې راکړې، ځلمي چه شا ته وکتل نو حيران پاتې شو ځکه چه د هغه دواړه ورونړه کوم چه شهيدان شوي وو، د فرښتو د يوې ډلې سره په هغه اسونو سواره دي. ځلمي هغوئي ته سلام وکړو او بيا ئې د هغوئي نه د احوال تپوس وکړو. هغه دواړو اُووئيل چه: مونږه په يوه غوپه کښې جَنَّتُ الفردوس ته ورسيدلو او [اوس] الله تعالیٰ ستا خوا ته راليږلي يو. بيا هغوئي بيرته لاړل او هغه ځلمې سره د هغه جينئ شام ته ورسيدلو او د هغې سره ئې واده وکړو او هُم هلته ئې اوسيدل اختيار کړل. د هغه درې واړو بهادرو شامي ورونړو قِصّه په شام کښې ډيره مشهوره شوه او د هغوئي په شان کښې قصيدې وليکلې شوې چه د هغې يو شعر دا دې: ؎

سَيُعْطِي الصَّادِقِين بِفَضلِ صدِقٍ

نَجَاةً فِي الحَيَاةِ وَ فِي المَمَاتِ

تَرجَمَه: نزدې ده چه الله تعالیٰ به رښتيا وينا کوونکو ته د رښتيا وينا په بَرَکت په ژوند او مرګ کښې خلاصې ورکړې. (عُيُونُ الحِكايات ص١٩٧، ١٩٨ دارالكتب العلمية بيروت) د

www.dawateislami.net

اللہ تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه هغه درېِ وارړو شامي ورونړو په ایمان باندې د استِقامت څنګه زبردسته مظاهره وکړه. د هغوئي په زړونو کښ ایمان څومره پوخ شوې وو، هغوئي د عشق او مَحَبَّت صرف اوچتې اوچتې دعوې کوونکي نه وو بلکه په حقیقي معنو کښ **عاشقانِ رَسُول** وو. دوه ورونړه د جامِ شهادت څښلو نه پس د جَنَّتُ الفردوس د همیشه همیشه نعمتونو حقداران جوړ شو او دریم د رُوم ښائسته جینئ ته هډو د سره کتل نه. او شپه او ورځ د **اللہ تعالیٰ** په عبادت کښ مصروفه اوسیدو او دغسې چه څوك د ښکار په نِیَّت راغلي وه هغه پخپله قید شوه. **د دې حِکایت نه دا هُم معلومه شوه چه په مُشکِلاتو کښ د سرکارِ مدینه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **نه مدد غوښتل او یا رَسُولُ اللہ وئیل د اَهلِ حَق پخوانئ طریقه ده.**

یارسول اللہ کے نعرے سے ہم کو پیار ہے
جس نے یہ نعرہ لگایا اُس کا بیڑا پار ہے

مونږه لرو مِینه نعره یارَسُولَ اللہ سره
زمونږ به بیړئ تیره شي په فضل د اللہ سره

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

# د دُنيا راحتونه ئې په ټوکر اُووهل

د هغه شامي ځلمي عزم او اِستِقلال او په ايمان باندې د هغه اِستِقامت مرحبا! لږ سوچ وکړئ! د هغه په مخکښې د هغه دوه خوارۀ خوارۀ وروڼره شهيدان کړې شو خو د هغه په استقامت کښې هيڅ فرق رانغلو، نه په دباوونو کښې راغې او نه د قيد تکليفونو د هغه اراده بدله کړې شوه. د حق او صداقت منونکې د مصيبتونو د تورو تورو ورېځو نه بالکل ونه يريدو، د مصيبتونو طوفان د هغه استقامت ذره هُم ونه خوزوو، د **الله** و **رسول** عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشق د دُنيا د آفتونو هيڅ پرواه ونکړه بلکه د **الله** تعالىٰ په لار کښې راتلونکې هر مصيبت ته ئې خير راغلې وئيلو، او د دُنيا د ښائست لالچ هُم د خپلو ارادو نه منع نه کړې شو او هغه غازي د اسلام د پاره د دُنيا هر قِسم راحتونه په ټوکر اُووهل. ؎

یہ غازی یہ تیرے پُراَسرار بندے
جنہیں تونے بخشا ہے ذوقِ خدائی

ہے ٹھوکر سے دونیم صحرا اودریا
سمٹ کر پہاڑان کی ہیبت سے رائی

دوعالم سے کرتی ہے بیگانہ دل کو
عجب چیز ہے لذّتِ آشنائی

شہادت ہے مطلوب و مقصودِ مومن
نہ مالِ غنیمت نہ کشور کشائی

www.dawateislami.net

دا غازيان ستا عجيبه بندګان دي تا ورکړي دي دوئي ته خپل مَحَبَّت
په تېوکر شلوي صحرا و درياب يريږي هُم غر له دوئي له هيبت
له جهانه کړي زړه بالکل بې پروا عجيبه خيز دي خوند د مَحَبَّت
نه مالِ غنيمت نه زر نه بادشاهي مطلب و مقصد د مومن دي شهادت

آخر دا چه الله تعالٰی ئې د خلاصي نه پس ډېر ښه اسباب جوړ کړل. هغه رُومي جينئ مسلمانه شوه او د دوارو نکاح هُم وشوه.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که تاسو هُم د دوارو جهانو کاميابي غواړئ نو د عاشقانِ رَسُول سره په مَدَني قَافِلو کښ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره سفر او هره ورځ د فِکرِ مدينه په ذريعه د مَدَني انعاماتو رساله [کښ خاني] ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائ تنظيمي ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ❀ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ❀ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار په "**مَدَني قَافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ










MC 1286

فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net

www.dawateislami.net